# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د بې ساه رژيم له امله انتقالي حکومت د ډودۍ بيه دوه برابره کړه او د GAHT منافقت هېڅ ډول ډاډ نشته

د خرطوم والي ډګرمن احمد عبدون اعلان وکړ، چې د خرطوم دولت د داسې لارې چارې د پيدا کولو په لټه کې دی، چې د ډوډۍ جريان ثابت وساتي او په دې سره موافقې ته ورسېدل، چې د ۴۰ ـ ۴۵ ګرامو وزن لرونکې ډوډۍ توليد ته اجازه ورکړي او په پېرودونکو يې په يو پونډ وپلوري، په همدې حال له ۸۰ ـ۹۰ ګرامو لرونکې ډوډۍ بيه دوه پونډه ده، دا بيه د منل شوو وزنونو سره سم د بېکري له مالکينو سره ژمنه وشوه.

موږ حزب التحرير ـ ولايه سوډان، د دې اعلان په اړه چې حکومت د اصلي حل لارو نه، بلکې د يوې بلې حل لارې په لټه کې دی، موږ يې په لاندې توګه تصديق کوو:

**لومړی:** د تېر رژیم په دوران کې د ۷۰ ګرامه ډوډۍ بیه یو پونډ اعلان شوې وه، د انقاد په دوران کې دا وزن ۵۰ ګرامو ته ورسېد.

**دویم:** اوسني انتقالي حکومت د وزن پر کمولو سترګې پټې کړې دي، تر څو دغه وزن ۳۰ ګرامو ته لاړ نه شي او اوس هم ورته رسېدل ستونزمن شوي دي.

**درېیم:** د بېکري مالکینو ټینګار وکړ چې د ډوډۍ بیه له ډېر وزن سره دوه پونډه شوې ده؛ دې ته په پام سره چې اوسنی ارزښت د تولید لګښت هم نه پوره کوي، تر هغه وخت پورې چې خلک نوی نرخ ومني، د کړکېچ رامنځته کېدل او تولید پر ځای پاتې دی، حکومت په پای کې د یوې ډوډۍ لپاره دوه پونډه بیه کافي وبلله. د خلکو د ګډوډولو لپاره یې دوې بیې او دوه وزنونه یاد کړل.

**څلورم:** تر هغې چې خلک غولول کېږي ـ لکه څرنګه چې یې بې ساه حکومت کوي، په لومړیو ورځو کې به د ډوډۍ اندازه له اوسنۍ اندازې ښخه لوړه وي، وزن به یې د نن وزن په څېر وي، بیه به یې

پر وخت وټاکل شي (دوه پونډه)، په دې توګه به دولت له رسمي اعلان پرته د ډوډۍ بیه دوه برابره کړي.

انتقالي حکومت د بې ساه حکومت سره کوم توپیر نه لري، چې د خلکو پر وړاندې راپورته شي او د هغې غیر عادلانه پالیسۍ پلې کړي، چې د ربا پر اساس د نړیوال فنډ او د دوی د ویجاړوونکې نسخې پر اساس دي. دا د یوې سکې دوه اړخونه دي، چې اساس یې په غیر مستقیم ډول له پانګوال نظام څخه سرچینه اخلي، چې د پورونو یو بنسټ ډالر دی، د لالچ پانګوالۍ د ګټې لپاره تولید ګډوډوي. په دې وخت کې د دولت ملاتړی او د ازادۍ او بدلون ځواک (GAHT) پر ډوډۍ یا نورو د رسوب فشار نه راوړي. د حکومت ټینګار د نړیوال وجهي صندوق زیان رسوونکې نسخې د پلي کولو سرببره، د لوږې بیې او بېوزلۍ له امله چې خلک ځوروي، ښیي چې دوی هم د واکمن استعمار اجنټان دي.

یوازې اسلامي نظام، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منهج پر اساس راشده خلافت د خلکو د چارو ساتنه او د هغوی لپاره د هوساینې او ارامه ژوند وړتیا لري؛ ځکه چې درملنه یې د الله

سبحانه وتعالی له کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونو اخلي.

اې د سوډان خلکو! راځئ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منهج پر اساس د راشده خلافت د تاسیس لپاره کار وکړو، چې د دې پرله پسې ناورینونو څخه راووځو، خپل رب راضي کړو او تاسو به راحت ژوند ولرئ.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ]**

**ژباړه:** «اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! د الله سبحانه وتعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست، چې کله پیغمبر تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند بښونکی دی. وپوهیږئ چې الله

سبحانه و تعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی او د هماغه لوري ته به تاسې ورغونډ کړای شی. [الانفال: ۲۴]

**ابراهیم عثمان (ابو خلیل)**

**د حزب التحریرـ ولایه سوډان رسمي ویاند**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د شعبان ١٦مه**

**۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۹مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۴۳**